



# انسان له دغه ځمکي څخه نه دې

Ketabton.com

جلیل احمد ارمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## انسان له دغه ځمکي څخه نه دې

دا کائینات ډېر غټ دي.شاید دومره غټ وي چي د غټوالي لفظ لا دده ومخته کوچنی سئ.د نن ورځي تر ټولو طاقتور تیلسکوف یوازي ۳۰۰۰ کهکشانونه کشف کړي دي کوم چي د ۱۲ اربه نورې کاله په دایره کښي خپاره سوي دي.

ډاکټر ایلس سلور یو ډېر نامتو ډاکټر او ارکولوژیست دی،ده په خپل کتاب کي یوه ډېره په زړه پوري دعوه کړې ده او دعوه یي ددغه په اړه ده چي انسان ددغه ځمکي اصلي اوسیدونکی نه دئ بلکه دا په کوم بله سیاره کښي جوړ کړل سوی دی او د کوم لامل له امله دلته غورځول سوی دی.

ډاکټر ایلیس سلور دا وایي انسان چي په کوم ځای یا ماحول کي لومړی جوړ کړل سو یعني په کوم ځای کښي چي اول اوسیده هغه ځای یا سیاره آرام داره او زیات مناسب ماحول والا وه.هلته انسان ډېر نرم او نازک ماحول کښي ژوند کاوه.دده نارک مزاج او آرام داره طبیعت څخه ښکاره ده چي ده د خپل رزق د پیدا کولو لپاره هلته هیڅ کوم خوارې نه کښل یعني اړتیا نه وه ورته هر شی خپله ورته ورکول کیده.

دا یو ډېر نازولي مخلوق و کوم چي اسي په زړه پوري ژوند یي په نصیب وو.هغه ماحول چیري چي انسان مخکي اوسیده یا اول اوسیده یو داسي ماحول و کوم چي د ګرمي او د یخني پر ځای تل د بهار پادشاهي وه او هلته د لمر په څیر د خطرناکو ستورو ګرمي او زیان رسونکي وړانګي هیڅکله نه وه کوم چي ددغه مخلوق له برداشت څخه وتلي او تکلیف ورکوونکي وي.ددغه خبرو مطلب دا دی چا چي دغه مخلوق هلته جوړ کړ او بیا یي ځمکي ته راواستول نو معلومه خبره ده چي دغه ذات هغه ذات دی کوم چي د ستورو او د ټوله نظام او کائیناتو مالک دی یعني ددي ټولو شیانو پادشاه دي او دا بیله شکه د الله(ج) لا شریک ذات دی.الله(ج) که هر مخلوق ته یي اراده سوې وای یا وسي هر ځای چي وغواړي د شزا لو جزا او امتحان په توګه یي استولای سي.الله(ج) د مختلف قسم مخلوقات پیدا کولای سي او هم یي کړي دي

ډاکټر ایلیس سلور وایي چي کیدای سي ځمکه یو داسي ځای وي کوم چي د زندان قرار ورکول کیدای سي او یا د یو امتحان ځای.یو داسي ځای چیري چي مجرمان او نور خلګ د سزا او امتحان لپاره استول کیږي.د وچي د یو داسي ټوټې شکل د کوم څلور خواو ته چي سمندرونه دي هلته انسان واستول سو.

ډاکټر ایلیس سلور یو ساینسپوه هم وو کوم چي د مشاهداتو د نتیجو تر لاسه کولو وروسته یوه خبره یا یوه دعوه او یا یوه نظریه رامنځته کوي. د ښاغلي سلور یو کتاب سته کوم چي په دغه لاندي نامه سره یادول کیږي:انسان له ځمکي څخه نه دی( the human is not from earth ).د ښاغلي سلور په دغه کتاب کي زیاتره داسي ساینسي دلیلونه سته کوم چي انسان فکر کولو ته مجبوره کوي او دده د دلایلو غټ لامل چي په کوم نقاطو باندي دې په دوي کي ځیني ثابت سوي هم دي او په دغه خبري دلالت کوي چي انسان له ځمکي څخه نه دې.راځي چي ددغه کتال څو لاملونه دلته ووایو.

اول لامل:د ځمکي د جاذبې قوه او د هغه ځای د جاذبې قوه له کوم ځایه څخه چي انسان راغلی دې زیات توپیرلري.له کومي سیارې څخه چي انسان راغلی دې د هغه ځای د جاذبې قوه د ځمکي د جاذبې قوې څخه کمه وه،د کوم له امله چي د انسان لپاره تګ او راتګ او وزن پورته کول ډېر آسانه کار وو.د انسانانو لپاره د ملا د درد شکایت اکثره د جاذبې قوې له امله وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم لامل:په انسان کي چي هر څومره دایمي امراض پیدا کیږي هغه په نور هیڅ ډول مخلوقاتو کې نسته کوم چي په ځمکه کي اوسیږي.

ډاکټر ایلیس سلور لیکلي چي تاسو په دغه ځمکه کي داسي انسان راته ښکاره کړې کوم چي هیڅ مریضي ونه لري،که تاسو دا ثبوت کړ یا پیدا مو کړ نو زه به له خپلي دعوې څخه لاس واخلم،خو ددي برعکس وای زه تاسو ته د دا هر حیوان په اړه ویلای سم کوم چي د وختي او عارضي مریضي علاوه په کوم بر مرض باندي یو ځناور هم اخته نه دې.

دریم لامل:یو انسان هم زیات وخت لمر ته نه سې کښینانستای یا پریواتای بلکه یو څه عمر وروسته یي سر پر له ځرخي او د لمریز ضربې ښکار هم کیږي مګر په حیواناتو کي داسي هیڅ کومه ستونزه نسته په میاشتو میاشتو لمر ته اوسیدلو باوجود حیوان د هیڅ جلدي مریضي ښکار نه کیږي او نه هم د یو داسي مریضي ښکار کیږي کوم چي تعلق یي د لمر له تیزو شعاوو سره وي.هر انسان دا محسوس کوي او هر وخت دده سره دا احساس وي چي دده دایمي کور په دغه سیاره کي نه دې کله کله بغیر له کوم لامل څخه په ده باندي داسي خوابدتیاوي او تشویشات ښکاره سې لکه په خارج کي اوسیدو ولا محاجر باندي چي وي.

په ځمکه کي اوسیدو والا د ټولو مخلوقاتو د تودوخي درجه په اتوماتیک توګه هري ثانیي وروسته بدلیږي یعني که نن لمر زیات تیز وي نو ددوي د تودوخي درجه خپله ورسره برابر سي مګر که په دغه وخت باندي وریځ راسي نو ددوي د جسم تودوخي درجه د سایي په مطابق سئ،مګر انسان بیا داسي کوم سیسټم نه لرې انسان د موسم په بدلیدو سره ناروغه کیږي.د موسمي تبي لفظ یوازي په انسانانو کې دې.انسان په ځمکه کي پیدا کیدو والا ټولو مخلوقاتو څخه مختلف دې.دده DNA او جنس په دغه دنیا کي پیدا کیدو والا مخلوقاتو څخه مختلف او پیچلی دې.

ددغه ساینس پوه د خبري مطلب دا دې انسان چي په کومه سیاره کي جوړ کړل سوې وو هلته د ځمکي په څیر چټل ماحول یا چاپیریال نه وو.د انسان نرم او نارک جلد کوم چي د لمر له امله تور سې دده د پیدائشي سیارې په مطابق بلکل مناسب جوړ کړل سوې وو.انسان دومره نازک مزاجه هلته روزل کیده چي ځمکي ته تر راتلو وروسته هم د خپل نازک مزاج په مطابق د ماحول یا چاپیریال پیدا کولو په کوشش کې دې.لکه څرنګه چي انسان په خپل پیدائشي سیاره کي په آرام داره بستر باندي په خوب اموخته وو،دی ځمکي ته تر راتلو وروسته اوس هم په دغه کوښښ باندي اخته دې چي زیاته اندازه سره آرام ژوند تیر کړئ لکه قیمتي او ښایسته کوروته چي د هلته درلودل اوس هم په دغه اخته دې چي هغه رقم کورونه ځانته جوړ کړې،مګر نور ټوله مخلوقات او حیوانات له دغه څخه جلا دې.دلته د ځمکي خپل اصلي مخلوقات د عقل له مخي یو څه پاته او د دریمي طبقي ژوند درلودونکي دي کوم ته چي نه د ښه وایلو توفیق سته او نه هم د ښه اوسیدو او خوړو.انسان دغه مخلوقاتو ته په کتو سره سخت زړی او ظالم سوې دې خو دده اصلیت د میني او د امن او آرام ژوند وو.انسان یو داسي مخلوق دې کوم چي د امتحان لپاره ځمکي ته را استول سوې دې.

ډاکټر ایلیس سلور دا وایي چي د انسان د عقل او شعور څخه دا اندازه لګول کیږي چي دده لومړئ مور او پلار کوم چي د هغه بلي دنیا څخه را استول سوي وه له هغه ورځي څخه بیا تر ننه پوري زیات وخت نه دې تیر سوې یوازي وای یو څو زره کلونه تیر سوي دي ځکه انسان اوس هم په دغه کوښښ لګیا دې چي خپل ژوند د هغه دنیا د ژوند په څیر آرام داره کړئ،کله انسا موټران جوړوي نو کله بیا موبایلان.که چیري ددي برعکس که څو لکه کاله تیر سوي وای نو کوم لاسته راوړني چي تاسو نن ورځ ویني هغه به زرګونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونه مخکي به لا سوي واى ولي چي انسان دوهم بې پروا او حشي نه دې چي د زرگونه کلونه دي د حيواناتو په څير ژوند تير کړئ.

د ډاکټر ايليس سلور په کتاب کي ددغه کوچنک عنوان په حوالي باندي ډېر څه ليکل سوي (انسان له ځمکي څخه نه دې)او تر ټولو مهمه خبره دا ده چي دده دغه دلايل تر اوسه پوري هيڅا دروا غ نه کړه ثابت.

ما چي کله دده دغه کتاب ولوست او دده په دغه دلايلو په وايلو سره زما فکر ته يوه خبره راغله چي آخر دغه کيسه کوم چي يو ساينسپوه يي موږ ته بيانوي دا يوازي يوه کيسه نه ده بلکه يو حقيقي داستان دې کوم چي د انسانانو په هر الهامي او وحي سوي کتاب کي په همداسي توګه بيان سوي.

موږ ټوله د حضرت آدم(ع) او د بي بي هوا انا په کيسه باندي آګاه يو.په صورت الرحمن آيات نمبر ۱۴ کي الله(ج) فرمايلي:

**خلق الأنسن من صلصلٍ كالفخّار**

ترجمه:انسان(آدم ع)يې له کودړې غوندي کړنګېدونکي وچي ورستې شوي خټي څخه پيدا کړ

دلته له انسان څخه مراد بابا آدم (ع) دې او دلته په دغه آيات کي الله(ج) دده مبارک د پيدايښت د کيفيت يوه اندازه بيان کړي ده.په قرآنکريم کي په نورو مقاماتو کي هم دده مبارک ده پيدايښت کيفيت نور مراحل هم بيان سوي دي لکه الله(ج) فرمايلي په صورت مومنون ۱۲ کي

**ولقد خلقنا الأنسن من سللةٍ مّن طينٍ**

ترجمه:بيشکه موږ انسان له خالصي نرۍ خټي څخه جوړ کړ؛

په بل ځاى کي الله(ج) په صورت الصافات آيات نمبر ۱۱ کي فرمايلي

**أنا خلقنهم مّن طينٍ لّازبٍ**

ترجمه:دوي خو موږ له سرېښناکي خټي څخه پيدا کړيدي

په بل ځاى کي الله(ج) په صورت الحجر آيات نمبر ۲۶ کي فرمايلي دي

**ولقد خلقنا الأنسنَ من صلصلٍ مّن حمإٍ مّسنون**

ترجمه:موږ انسان د بويناکي خټي او وچ کودړي څخه پېدا کړ

خو ددي ټولو آياتونو معنا او تفسير يو ډول دې او هغه داسي دې چي له آدک(م) له پيدايشت څخه لومړی د هر قسم خاوره راټوله کړل سوه او بيا په اوبړ سرع واغشل سوه نو بيا هغه داسي توره خټه جوړه سوه له کوم څخه چي بوې راولاړيدو او له دغه سره د آدم(ع) جسم مبارک جوړ سو او کله چي خاوره وچه سوه نو د هوا په تيريدو له امله شارډ په څير آوازونه کول

بيا يي روح ته د داخليدو حکم ورکړ او کله چي روح جسم ته داخل سوه او دده سرږمو ته ورسيدو نو ده مبارک ته تريچى راغلى او کله چي ژبي ته ورسيد نو د مبارک الحمدالله وويل او الله(ج)وفرمايل يرهمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

كل الله يعني الله(ج) دي پر تا رحمت وکړئ او داغه رقم کرار کرار روح په ټوله جسم کي خپره سوه او دی مبارک ژوندی سو او راولاړ سو.

بیا الله(ج) ورته وفرمایل چي ولاړ سه دغه ملائيکو ته سلام ووایه او غوږ ونیسه چي دوي څه وایي هر څه چي دوي وویل هغه به ستا او ستا د نسب سلام به وي.آدم(ع) دوي ته لاړ او اسلام علیکم یي وویل ملائيکو په جواب کي وویل وعلیکم اسلام ورحمة الله وبرکاة.

کله چي الله(ج) آدم(ع)پیدا کو نو ټولو ملائیکو د الله(ج)په امر سره ده ته سجده وکړه مګر ابلیس تقبیر وکړ او له سجدې څخه یي ډډه وکړه او وویل زه له ده څخه بهتره یم زه دي له اوره جوړ کړم او آدم دي له خاوري څخه او بیا الله(ج) د آدم له چپي پښتي څخه هوا انا پیدا کوه په دغه خاطر چي آّدم(ع) له دې څخه آرام ترلاسه کړئ.بیا الله(ج) دوي ته په جنت کي د اوسیدو حکم وکړ او دواړه د جمعي مبارکي په ورځ جنت ته داخلی سول.

الله(ج)آدم(ع) ته وویل چي ته له خپلي میرمني سره په دغه جنت کي واوسه او له هره ځایه چي ستا زړه وي ښه خوراک او څښاک وکړه مګر له دغه درختي څخه لیرې اوسه نږدې مه ورځه کني تاواني به سي او دغه ابلیس ستا او ستا د میرمني ښکاره دښمن دې له دغه سره بیداره اوسه،داسي نه چي تاسو له جنت څخه وباسي او دلته جنت کي به تاسو په ډېر آرام او سکون سره به ژوند وکړي.آدم(ع) او هوا انا په ډېر آرام سره په جنت کي اوسیده مګر ابلیس ددوي تر شا لګیا وو او د مار په خوله کي جنت ته داخل سو او آدم(ع) ته یي وویل چي ای آدمه آیا زه تاته داسي درخته دروښیم د کوم د میوي په خوړلو سره ته به داسي سلطنت پیدا کړې کوم چي هیڅکله به ذوال پیدا نه کړئ او یوه ورځ یي ده آدم(ع) ته وویل چي ستا رب چي ته له کومي درختي له میوي څخه منع کړی یي بس له دغه له امله چي ستا څخه یوه ورځ ملائیکه جوړه نه سي او تل پاته ژوند پیدا نه کړې او بیا یي په قسم خوړلو سره وویل چي زه ستاسو ملګری یم.

الله(ج) چي کوم احد له آدم(ع) څخه اخیستی وو آدم(ع) هغه هیر کړ او ابلیس آخر آدم(ع) یي خطا ایسته.د آدم(ع) میرمت هوا انا لومړی د درختي میوه وخوړل او بیا یي آدم(ع) ته د خوړلو لپاره وویل او وروسته هغه خوړو ته چمتو سو او میوه یي وخوړل.له دې څخه وروسته د دواړو لباسونه له تنه لیرې سوه او دواړو د جنت په بلګونو ځانونه پټ کړل.الله(ج) دوي ته وفرمایل چي ما تاسو له دغه درختي څخه نه وس ومنع کړي او آیا ما تاسو ته نه وه وایلي چي شیطان ستاسو ښکاره دښمن دې له دغه سره بیداره اوسي او بیا الله(ج) دوي ته وفرمایل چي له دغه جنت څخه تاسو ووځي او لاندي لاړ سي اوس به تاسو یو څه وخت لپاره په ځمکه کي اوسي او له هغه څخه به ګټه اخلي او بیا الله(ج) دوي ته د جمعې په ورځ ځمکي ته د تا کیدولو حکم وکړو او په همدغه جمعې په ورځ آدم(ع) او هوا انا ځمکي ته راغله.

د انسان د پیدایښت په مطابق په هر دور کي مختلف نظریات رامنځته سوه کله انسان د بیزو له نسل څخه وګڼل سو کله د ماهی له نسل څخه ،مګر حقیقت خو جلا دې او نن ساینس هم د هغهو خبرو په منلو مجبوره دې کوم چي الله(ج) موږ ته په قرآنکریم کي ښودلي

ددي ټولو خبرو څخه دا معلومه ده چي نړئ زموږ اصلي او دائمي کور نه دې او نه هم موږ ددغه ځمکي اصلي اوسیدونکي یو .دا زه نه وایم بلکه دا قرآن او احادیث راته وایي.

په قرآنکریم کي الله(ج) فرمایلي:ای انسانانو ددغه نړئ ژوند ستاسو لپاره د امتحان ځای دې له کوم ځای څخه چي ستاسو د عمال په مطابق سزا او جزا درکول کیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت محمد(ص) فرمايلي:دنيا د مومن لپاره قيد خانه ده او د کافر لپاره جنت.

صحيح المسلم

**پاي**

**۱۹/۲/۲۰۲۱**

**جليل احمد ارمان**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**